د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Access to Information**
**Commission**

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| **نېټه** | ۱۳۹۹ کال، ۲۳ غوایي |
| **ځای** | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| **د غونډې رییس** | د کمېسیون رییس او کمېشنر ښاغلی عین الدین بهادري |
| **ګډونوال** | د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام، کمېشنر او منشي ښاغلی حمدالله ارباب، د کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري،حقوقي سلاکار محمدحسن پویا، تخنیکي سلاکارولي‌الله مصباح، د پالیسۍ او څارنې سلاکار محمدهاشم مرشد |
| **دغونډې تنظیمونکی** | عصمت‌الله حیدري |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه چې د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و، د مرتبه اجنډا او د ښاغلي عین الدین بهادري په خبرو پیل شوه او د کمېشنرانو لخوا په لاندې سکالو ګانو خبرې او اړینې پرېکړې وشوې:

**۱- په ټاکل شوي وخت په غونډو کې ګډون:** له ټولو همکارانو څخه هیله کېږي چې په غونډه کې د شتون لپاره له وړاندې ټاکل شوي وخت سره سم په ټاکلي وخت د غونډې کوټه کې شتون ولري.

**۲- د مخکېنۍ غونډې د پرېکړو پلي کېدو په اړه لنډې خبرې:** ښاغلي بهادري د دارالانشا ریاست څخه غوښتنه وکړه د مخکېنۍ غونډې پرېکړو د پلي کېدو د څرنګوالي په اړه راپور وړاندې کړي. ښاغلي حیدري د مخکېنۍ غونډې پریکړو په اړه راپور او پایلې یې بیان کړې چې د کمېشنرانو لخوا ومنل او د هغوی د خوشحالۍ سبب شو.

- ✓ «اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د ستراتېژۍ» د وروستي کولو په پار اطلاعاتو ته دلاسرسي کمېسیون بشپړ اندونه د ایمیل له لارې له رییس او کمېشنرانو سره د بلې څېړنې لپاره شریک شول. ښاغلي بهادري زیاته کړه چې د روڼتیا څاراداري بشپړو اندونو ته منتظر دی چې د هغوی د بشپړو اندونو تر لاسه کولو ورسته به یې د جی ای زیډ موسسې سلاکار ښاغلي توبي ته واستوي.
- ✓ د کاري کړنلارې مسوده د کمېسیون رییس، کمېشنرانو او د کمېسیون غړو سره شریکه شوې و چې د ځینو کمېشنرانو په اند لا نور غور او څېرتیا ته اړتیا لري، تر څو د ماهیت له اړخه هر اخیزه وي. څکه نو آغلې زهرا موسوي وړاندیز وکړ، ښه به دا وي چې لومړی د داخلي دندو اصولو باندې کار وشي، تر څو وکولای شو د رییس، مرستیال، منشي او د دارالانشا ریاست د دندو په اړه ځانګړی تعریف وړاندې شي.
- ✓ ښاغلي بهادري او ښاغلي ارباب له ښاغلي حیدري او ښاغلي مصباح سره یو ځای اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د دفتر لپاره د عامه ساتنې تصدۍ د پام وړ تعمیرونو څخه لیدنه کړې و او د هغه په اړه یې خپل  نظرونه ارایه کړل. ښاغلي ارباب وویل چې له ښاغلي درمل سره مې خبرې کړي او د ولسمشر حکم ته په طمعه ده تر څو د هغه پر بنسټ اجرات وشي. هغه زیاته کړه چې نوی تعمیر به د (اړتیا وړ امنیتي کارکونکو، د تعمیر ترمیم او د تل لپاره سپارلو) په صورت کې قبول کړي. ښاغلی ارباب به دا سکالو څېړي. د اوسني تعمیر له څښتن سره پر وخت د قرار داد لپاره، د دارلانشا ریاست د تعمبر د کرایي قرارداد د پای په اړه خبرې وکړې او شپږ راتلوونکو میاشتو لپاره قرارداد یې «د قرار داد فسخ لپاره د یوې میاشتې وړاندې خبرولو »په صورت د بیا قرار داد وړاندیز وکړ چې د کمېسیون د غړو لخوا ومنل شو.
- ✓ اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سیستم لاربنود، د ښاغلي حقیار لخوا تنظیم او د پښتو او انګلیسي ژباړې لپاره همکارانو ته سپارل شوی. ښاغلي بهادري زیاته کړه چې ډېر ژر به د ولسمشرۍ مانۍ دویم مرستیال سره د لیدنې په

لړ کې اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سیستم پېژندنې او کلنی راپور سربېره د سرغړونکو ادارو لړلیک شریک کړي. ورپسې اطلاعاتو ته د لاسرسي انلاین سیستم د پېژندنې وخت هم ځانګړی شو چې د رسنیو په شتون کې به معرفي شي.

- ✓ د دارالانشا رییس د معرفي په اړه ښاغلي ارباب ته اړین معلومات ورکړل شوي تر څو هغه په دې برخه لازم اقدام وکړي. موصوف د ارتباطي وګړو فهرست ترلاسه کړی او هغوی ته به د معرفي ایمیل ور واستول شي.
- ✓ د جینوا دوه اړخیزو حساب ورکړې په اړه د کمېسیون نوې ژمنې، د کمېشنرانو په مشوره تنظیم او مالیه وزارت ته استول شوي
- ✓ د ځانګړې او ساتنې کمېټې غړو ته اړینې ابلاغې استول شوي تر څو په وړاندې شوي وخت کې د خپل کار پایلې کمېسیون ته وړاننډې کړي.
- ✓ د کارکونکو د کاري چارو او رخصتیو د لا ښه تنظیم لپاره د رخصتۍ فورمې ترتیب او د کمېشنرانو د نظریاتو په پام کې نیولو سره ژباړونکي ته استول شوي.
- ✓ د دارانشا ریاست لپاره د یو موټر کرایه کولو په برخه کې لازم اقدامات شوي دي.

۳- ښاغلي بهادري او ارباب صیب وګړو او بنسټونو ته د ایمیل استولو په برخه کې د اسانتیا لپاره د ډلیزو ایمیلونوجوړو وړاندیز وکړ او هر امریت د خپلو مخاطبینو په پام کې نیولو سره خپل ګروپونه د ښاغلي حقیار په مرسته تنظیم کړي. ښاغلي حیدري زیاته کړه چې د قرنطین پای ته رسېدو وروسته به ښه وي چې د کارکوونکو رسمي ایمیلونه د «*اوټ‌لوک*» نرم افزار باندې تنظیم شي چې د کمېشنرانو لخوا یې هرکلي وشو.

۴- کمېشنرانو د اطلاعات غوښتلو په اړه شکایتونو باندې بحث او اړینې پرېکړې یې وکړې. هغوی پرېکړه وکړه که چېرته بنسټونو په ټاکل شوي وخت کې غوښتونکي ته اطلاعات ورنکړل، کمېسیون به موضوع د قانون حاکمیت شورا او کابینې سره مطرح کړي.

۵- د کمېشنرانو په وړاندیز، ښاغلی حیدري، حسن پویا، ولي الله مصباح او سید حسن حسیني وګمارل شول چې شکایتونو ته د رسېدنې کړنلارې باندې کار وکړي او کمېسیون ته راپور ورکړي.

۶- دفتر ته د **افغان تلي کام** رسمي شمېره برابره شي چې تلفونونه یې وړاندې پېرل شوي دا موضوع به د کرونا ویروس خپراوي د مخنیوي په پار د رسمي بندیزونو پای ته رسېدو وروسته وڅېړل شي.

۷- کمېسیون ته د معلوماتي مرکز (کال سنټر) تنظیمولو په پار د اترا مسوولینو سره د کتنې همغږيي وشي تر څو وکولای شو ډېر ژر دا مرکز د کمېسیون، اترا یا تمویل کوونکو بنسټونو په امکاناتو فعال کړو.

۸- کمېشنرانو کارکوونکو ته د انټرنیټ فعالولو لپاره د (۶۰۰)کرېډیټ ورکول د قرنطین تر پای ( د وري اول څخه تر رسمي پای) پورې ومنل تر څو کارکوونکي له لرې خپل کارونه تر سره او د دارالانشا ریاست ته راپور ورکړي.

۹- ملي بودجه د کرونا خپراوي له امله له تعدیل سره مخ شوې چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون بودجه هم د مالیه وزارت لخوا تعدیل شوې او د تعدیل د وړاندیز پاڼه یې د ملي شورا استازو ته استول شوی. ځکه نو ښاغلي بهادري او ښاغلي ارباب کوښښ کوي چې له اړوندو مسوولینو سره خبرې وکړي او د کمېسیون د بودجې تعدیل له قانوني لارې حل کړي.

۱۰- د کمېسیون د پرېکړو پلي کولو کړنلاره چې وړاندې د ښاغلي پویا لخوا ترتیب شوی مطالعه او وڅېړل شي.

۱۱- په یو مناسب وخت کې د کمېسیون د کارکوونکو ظرفیتي اړتیاوو په اړه د اړتیا ارزونه وشي تر څو د دوی ظرفیتونه و ارزول او ورپسې د ظرفیت جوړونې پروګرامونه د کمېسیون، اداري اصلاحاتو کمېسیون او یا تمویل کوونکو بنسټونو کارکوونکو لخوا دایر شي.

۱۲- د معلوماتو له مخې، عسکر پولیس د شپې لخوا خپل میلمانه دفتر ته راولي. د دارالانشا ریاست د په دې برخه کې څېړنې وکړي او کمېسیون ته د راپور ورکړي.

۱۳- د کارکوونکو یووالي په پار لاندې **واټسپ** ګروپونه به جوړ شي.

- ✓ د کمیشنرانو، دارالانشاء رئیس او سلاکارانو ګروپ
- ✓ د آمرینو، سلاکارانو او دارالانشاء رئیس ګروپ
- ✓ عمومي ګروپ

۱۴- د مخکښي کمېسیون فیسبوکي او انټرنیټي پاڼه د غیرې فعاله شي، په دې اړه د پانې مخکښي مدیرانو سره د آی تی همکارانو لخوا همغږي شوي او د عمل اقدام به وشي.

۱۵- له یونسکو سره د پلان شوي کاري پروګرامونو په اړه خبرې وشوې او یو ویزه کارت تنظیم شي تر څو وکولای شو د کمېسیون فېسبوک پاڼه پیاوړې او ملاتړ یې وکړو.

۱۶- په بالمقطع ډول د ډریورانو ګمارنه: څرنګه چې ټول په جریان کې یاست څه موده وړاندې د ډریورانو رقابتي ازموینه واخیستل شوه چې څلور کسه د ډېرو نمرو په ګټلو واجد د شرایطو او د وګمارنې وړ وګڼل شول. څرنګه چې د دوی اسناد د څېړلو په حال کې دي او ډېری اداري قرنطین دي نو د اسنادو طی مراحل تر اوسه نه دي بشپړ شوي. د مبرمې اړتیا پر اساس د کمېسیون رییس او غړو ډریورانو ته د ۱۳۹۹ کال د وري ۲۴ کمېسیون ته د زرهي موټرو تسلیمي سره سم یاد څلور کسان عملا د ډریورانو په توګه په دنده وګمارل. نو په د توګه د څلور بالمقطع کسانو قرار داد په فوق العاده توګه د وري له ۲۴ د دوه میاشتو لپاره تصویب دی.

درنښت

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي